بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهارشنبه ۱ تله ۱۴۰۵ هـ ش | ۱۰ ربیع الآخر ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۳ سپتمبر ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۴۷)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې قضائي مرستیال د یوه پلاوي په مشرۍ کاپیسا او پنجشیر ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب د سترې محکمې د کارکوونکو چارو د عمومي رئیس محترم الحاج مولوي سیف الله (آغا) او د استخدام او سوانحو د رئیس محترم مفتي عبدالوارث (سعید) په ملتیا، د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې په ۲۶ او د ربیع الآخر میاشتې په ۳مه نېټه دکاپیسا او پنجشیر ولایتونو ته د محاکمو د فعالیتونو د څېړلو او د ولایتي امارتي ادارو له مسئولینو سره دکتنې په موخه یاد ولایتونو ته سفر وکړ.

د سترې محکمې قضائي مرستیال او ورسره مل پلاوي د سفر په پیل کې، د کاپیسا او پنجشیر ولایتونو د مقام له مسئولینو سره د ښې همغږۍ او همکارۍ په موخه غونډه وکړه.

ورپسې یاد پلاوي د مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو له رئیسانو او قضائي غړو سره وکتل او د چارو د لا ښه‌والي په موخه یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب د محاکمو ټولو غړو ته په وینا کې څرګنده کړه، چې دا نظام موږ او تاسو ته ستر امانت دی، د دغه امانت په ساتلو کې باید له پوره صداقت او اخلاص څخه کار واخلو او خدای مه کړه داسې وخت رانشي، چې بیا راتلونکي نسل ته شرمنده وو.

نوموړي زیاته کړه، په تېر کې افغانانو دا ارمان درلود، چې د یو واحد شرعي نظام تر چتر لاندې ژوند وکړي؛ الحمدلله نن یې هغه ارمان پوره شوی او هغه ورځ را رسېدلې ده، چې موږ د یو واحد شرعي او اسلامي نظام تر سیورې لاندې ژوند کوو.

دغه راز شیخ صاحب وویل، د الله تعالی په ځانګړې نصرت او ولس د قربانیو په برکت په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم شو؛ اوس پر موږ لازمه ده، چې د دغه نظام د بقاء او دوام لپاره خپل مسئولیت او را سپارل شوې چارې په پوره صداقت او اخلاص ترسره کړو.

همدارنګه محترم شیخ قاسم صاحب د محاکمو مسئولینو ته له مراجعینو سره د نېک او غوره چلند او چارو ته په ښه ډول د رسېدنې سپارښتنه وکړه.

په دې سربېره د سترې محکمې قضائي مرستیال او ورسره مل پلاوي د یادو محاکمو د تېرو قضائي او اداري چارو ارزونه وکړه او اړوند مسئولینو او منسوبینو ته یې د چارو د لا ښه والي په موخه لازمي لارښوونې او هدایات وکړل.

## د سترې محکمې نظامي مرستیال په مشرۍ یوه پلاوي کابل، کندوز، ننګرهار او بلخ زونونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې نظامي مرستیال الحاج مولوي محمدګل (صیاد) صاحب په مشرۍ یوه پلاوي، چې د نظامي معاونیت عضو مفتي مستشار الحاج مفتي محمد (عمري) او د یاد معاونیت عضو محرر مستشار الحاج مولوي جمیل احمد (جلال) یې ملتیا کوله، د روان ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې له ۲۰مې تر ۲۵مې نېټې کابل، کندوز، ننګرهار او بلخ زونونو ته د نظامي محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

یاد پلاوي د خپل سفر په پیل کې د یادو ولایتونو له محترمو والي صاحبانو، امنیه قوماندانانو او د استخباراتو له رئیسانو سره لیدنې وکړې؛ په دې لیدنو کې پلاوي د محاکمو د وضعیت او فعالیتونو په اړه له یادو مسئولینو څخه معلومات ترلاسه کړل، د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه‌والي، پرمختګ او ځینو ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه او وړاندیزونه واورېدل.

دغه راز د سترې محکمې نظامي مرستیال له مسئولینو سره د نورو موضوعاتو ترڅنګ د بندیانو اړوند مفصل او هر اړخیز بحث وکړ او مسئولینو ته یې هدایت وکړ، چې د مطرح شویو موضوعاتو په اړه له نظامي محاکمو سره پوره همکاري وکړي.

د لیدنې په دوام د سترې محکمې نظامي مرستیال د یادو زونونو د نظامي محاکمو عمومي رئیسانو ته هدایت وکړ، چې خپلو اړوندو ولایتونو ته سفر وکړي، په هر ولایت کې د نظامي محکمې له قاضي، والي، امنیه قوماندان او د استخباراتو رئیس سره غونډه جوړه کړي او د اړوند موضوع په اړه معلومات را ټول او له نهایي کېدو وروسته یې نظامي معاونیت ته ولېږي.

یاد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د یادو زونونو د نظامي محاکوو له قضائي هیئتونو سره وکتل، د محاکمو د تېرو فعالیتونو په اړه یې هر اړخیز بحثونه وکړل، ورپسې یې د یادو محاکمو درې __ درې جلده دوسیې وکتلې او د نېمګړتیاوو په اړه یې قضائي هیئتونو ته لازمي لارښوونې وکړې.

د لیدنې په پای کې یاد هیئت د قضائي، اداري، او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

## د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو له رئیس محترم مولوي محمداکبر (فرید) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو رئیس محترم مولوي محمد اکبر (فرید) صاحب، تر ټولو مخکې در څخه مننه کوو، چې له ډېرو مصروفیتونو سره سره مو د اسلامي عدالت خپرونې لپاره موږ ته خپل قېمتي وخت راکړ او دې خپرونې ته درته هر کلی وایم.

**لومړۍ پوښتنه:** مولوي صاحب، که تر ټولو مخکې د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست په اړه، د اسلامي عدالت خپرونې مینه‌والو ته لنډ معلومات ورکړئ؟

**ځواب:** الحمدللهِ ربِّ العالمین، والصلاةُ والسلامُ علی سیدنا محمد، وعلی آله وأصحابه أجمعین، أما بعد: فقد قال الله تبارك وتعالی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ، وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا، اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ، وَاتَّقُوا اللَّهَ، إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ) [سورة المائدة: ۸ آیت.]

زه ډېر خوښ یم، چې د اسلامي عدالت په دې خپرونه کې له تاسو سره ګډون لرم؛ ستاسو د مطرح شوې پوښتنې په ځواب کې ، په ډېر درنښت سره څرګندوم، چې د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د مقام د اړتیا او لزومدید له مخې د سترې محکمې په تشکیلاتو کې رامنځته شوی او د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي‌القضات تر مستقیمې رهبرۍ او هدایت لاندې فعالیت کوي.

د مقام د تحریراتو ریاست د سترې محکمې له مهمو او کلیدي ریاستونو څخه شمېرل کېږي، چې خپلې سپارل شوې دندې او مسئولیتونه د نافذه لایحې او همدارنګه د سترې محکمې د

پاتې برخه ص ۲

**د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**
**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**
**دویشتمه برخه:**

«ځکه دا به ستا لپاره د عذر اظهار ته بسنه کوي او مجهول حالت تر ټولو ښه روښانه کوي»: یعنې دا چې قاضي ته د قضاء له راجع کېدو وروسته ډېره څرګنده لاره ده تر څو قاضي معذور وګڼل شي او په همدې توګه (چې مهلت ورکړل شي) شک هم ښه له منځه وړل کېږي؛ ځکه وروسته له دې چې مهلت یې ورکړ او له دفع څخه هم عاجز شو، که هر ډول پرېکړه ورباندې وشي، د قضاء له مجلس څخه به منندوی او په چوپه خوله ولاړ شي؛ خو که مهلت ور نه کړل شي، بیا چې ولاړ شي، په زړه کې به یې شک پاتې وي او له ځان سره به وایي: زما د مقابل خصم ننګه او لحاظ یې وکړ، زما دلیل ته یې هېڅ غوږ نه کېښوده، نه یې دومره وخت راکړ چې خپل دلیل ورته وړاندې کړم.

«او دا دې تا له حقه منع نه کړي، چې تا نن یو حکم کړی وي، خو بیا ته بېرته خپل نظر ته ور وګرځې او صواب ته ورسېږې؛ نو بیا هم حق ته را وګرځه؛ ځکه چې پخوانی حق تلپاتې دی او هېڅ شی حق نه له منځه نه شي وړی او حق ته رجوع کول، له دې غوره دی چې په باطل کې همدسې پاتې شې»: دا خبره په دې باندې دلیل ده، چې که قاضي په خپله پرېکړه کې تېروتنه کړې وه، د شرعي نص، اجماع او یا د امام له قول څخه یې مخالفت کړی و، نو باید خپله پرېکړه ماته کړي. دا مناسبه نه ده چې د خلکو له شرمه دې پرېکړې له ماتولو لاس په سر شي؛ ځکه الله ﷻ ته نږدې کېدل او له هغه څخه ډار ورته ډېر غوره دی. دا یوازې د قاضي په حق کې نه، بلکې عامه ده او هر هغه څوک د دې خبرې مخاطب دي، چې له شرعي امورو څخه کوم څا ته ور ښایي؛ نو دعوتګر، مفتي او قاضي په دې خبره کې ټول یو شان دي. نو که یوه شو چې تېروتنه یې کړې، خپله رجوع دې څرګنده کړي؛ ځکه د عالم ښویېدل او تېروتنه، د خلکو د فتنې لامل کېږي، لکه څنګه چې ویل کېږي: د عالِم ښویېدنه، د ټول عالَم ښویېدنه ده. خو همدا خبرې د قاضي په حق کې ښېخې ډېره د پاملرنې وړ ده؛ ځکه قضاء لازم کوونکې ده.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې د عالي مقام د تحريراتو...

رئيس او قاضي‌القضات محتــرم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب د مستقيمو هداياتو او لارښـوونو پر بنسټ، په منظم او اغېزمن ډول ترسره کوي.

**دويمه پوښتنه:** محترم مولوي صاحب! د سترې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست عمده او پلاني فعاليتونه څه دي؟

**ځواب:** لکه څنګه چې تاسو ته ښه معلومه ده، د مقام د تحريراتو رياست يوه تشکيلاتي اداره ده، چې عمده دندې يې په لاندې دريېو برخو وېشلې دي:

الف: د آرشيف آمريت د مکتوبونو او دوسيو د ارسال او مراسلاتو، د اسنادو د تسليمۍ، ساتنې او خوندي کولو او همدارنګه د ســـترې محکمې اړوندو اسنادو د حفظ او ساتنې په برخه کې دندې ترسره کوي.

ب: د اسنادو او ارتباط آمريت د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالى) د احکامو او فرمانونو، د کابينې د مصوبو، مکتوبونو او وړانديزونو، د محکمو او نورو ادارو د اســـتهداګانو او اړونـدو اســـنادو په برخه کې خپلې دندې او مسئوليتونه ترسره کوي.

ج: د عارضينو عمومي مديريت د دعوا لرونکو (مدعي يا مدعى عليه) د عريضو د ترلاسه کولو، د مراجعينو د شکايتونو د څېړنې او هغه ته د رسېدنې په موخه د عريضو د مطالعې او تحليل، د سترې محکمې عالي مقام ته د عريضو د وړاندې کولو، همدارنګه د اړينو لارښوونو د وړاندې کولو په برخه کې خپلې دندې ترسره کوي.

**درېيمه پوښتنه:** مولوي صاحب! که د اسلامي عدالت خپرونې لوستونکو ته دا واضح کړئ، چې د سترې محکمې د عالي مقام د تحريراتو رياست د کومو موضوعاتو اړوند عرايض تسليم او له عالي مقام سره شريکوي؟

**ځواب:** ستاسې د پوښتنې په ځواب کې بايد ووايم، د تحريراتو رياست هغه عرايض له عارضينو څخه تسليموي، چې د حقوقي او جزائي موضوعاتو او دعوو په اړه وي او همدارنګه د عفوې او تخفيف اړوند عرايض هم اخلي، تر تحليل او بررسۍ وروسته، چې کوم عرايض مناسب وبولي، د سترې محکمې له محترم رئيس او قاضي‌القضات صاحب سره شريکوي او په اړه يې هدايت اخلي.

**څلورمه پوښتنه:** هغه عرايض، چې د مقام د تحريراتو رياست يې تسليموي، بايد په کومو شرايطو برابرې وي؟

**ځواب:** د سترې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست ته دوه ډوله عرايض (د حقوقي موضوعاتو اړوند عرايض او د جزائي موضوعاتو اړوند عرايض) سپارل کېږي، چې د هر ډول عريضې اخيستلو لپاره خپل ځانګړي شرايط شته، چې دغه شرايط د (د عــرايضو د اخيستلو او طی مراحل کولو کړنلاره) په نوم يو طرزالعمل کې راټول کړي دي؛ ياده کړنلاره په لاندې ډول ده:

د عريضې عمومي شرايط:

۱. په عريضه کې د موضوع خلاصه ليکل لازمي دي.

۲. د عريضې د ورکړې پر مهال د عارض فزيکي حضور لازمي دی.

۳. په عريضه کې د عارض د‌ګوتې نښان او د اړيکې شمېره ضروري ده؛ تر څو د عريضې اړوند معلومات او يا دويم ځل د عريضې تسليمولو په موخه ورسره اړيکه ونيول شي.

٤. عارض بايد په عريضه کې خپلې غوښتنې په روښانه او واضح ډول وليکي.

٥. عرايضو ته د ښې او غوره رسېدنې په موخه، د عريضې د ثبت دقيق تاريخ اړين او لازمي دی او د عريضې تاريخ بايد قلم‌خور نه وي.

٦. په عريضه کې بايد د عريضه‌نويس پوره شهــرت موجود وي.

۷. عريضه به د پورته شرايطو له بشپړولو وروسته د سترې محکمې مربوطه شعبې لخوا اخيستل کېږي.

د جزائي موضوعاتو (عفوې او تخفيف) عرايضو د اخيستلو او طی مراحل کولو جريان:

۱. عريضه ورکوونکی بايد د بندي نږدې اقارب (پلار، مور، ورور، خور، مېرمن، خاوند، کاکا) او يا شرعي وکيل وي.

۲. په عريضه کې دې د عارض مکمل شهرت، د محبوس مکمل شهرت، د قرابت وجه، ټول ورکړل شوی حبس، تېرشوی حبس او پاتې حبس وليکل شي.

۳. د محبوس د ابلاغ پارچې کاپي او يا د فيصلې کاپي به له عريضې سره ضميمه وي، د موجوديت په صورت کې د عارض د تذکرې، پاسپورټ او يا هم د معتبر هويت‌کارت کاپي دې هم له عريضې سره ضميمه وي.

٤. کومه عريضه، چې بندي يې د عفوې او تخفيف مستحق وبلل شي او د عارض قرابت له محبوس سره د تذکرې په واسطه نه معلومېږي، د مکملو معلوماتو لپاره دې مربوطه محمکې ته راجع شي.

٥. مربوطه محکمه دې د بندي د دوسيې او سوابقو له‌مخې د عارض او په عريضه کې ليکل شوي بندي په هکله بشپړ معلومات وکړي.

٦. که په دوسيه او يا سوابقو کې د عارض په هکله دقيق معلومات موجود نه وي، په عريضه کې د عارض د ليکل شوي نمبر له لارې دې عارض محکمې ته ور وغواړي.

۷. که د عارض د  قرابت د تثبيت لپاره بندي ته اړتيا وي، محکمه به بندي له محبس څخه محکمې ته ور وغواړي.

۸. که د بندي اصلاح او روغتيايي معلوماتو ته اړتيا وي، له مربوطه محبس څخه به معلومات غواړي.

۹. مربوطه محبس به د بندي شخصيتي دوسيه (هغه دوسيه، چې د بندي سلوک، اصلاح، روغتيا او نور اړين معلومات په کې ليکل کېږي) مطابق محکمې ته معلومات ورکوي.

۱۰. ابتدائيه محکمه دې خپل معلوماتي ګزارش (د عارض قرابت، د بندي د جرم متکرروالی، حق العبدي او نور معلومات) د سترې محکمې له عالي مقام سره شريک کړي.

د حقوقي عـرايضو د اخيستلو او طی مراحل کولو جريان:

۱. په عريضه کې بايد د عارض او معروض عليه مکمل شهرت وليکل شي.

۲. عريضه بايد خپله عارض، چې دوسيه يې په جريان کې ده يا د وکالت د جواز نمبر په اساس د هغه د وکيل لخوا وړاندې شي.

۳. د عارض موضوع، چې په ابتدائيه محاکمو کې جريان ولري، سترې محکمې ته د مراجعې پر مهال بايد د مرافعه محکمې د اجراآتو کاپي ورســـره ضميمه وي؛ تر څو دا روښانه شي، چې عارض سترې محکمې ته د عرض کولو څخه مخکې مربوطه مرافعه محکمې ته مـــراجعه کړې ده.

٤. د قبالې د مثنی د لاسته‌راوړلو په موخه عرايض نه اخيستل کېږي.

٥. د عرايضو عمومي مديريت مکلف دی، چې د عريضې د رسېدنې (وصول) تاريخ د عريضې په پاڼه کې وليکي.

٦. د عرايضو عمومي مديريت د عرايضو په برخه کې د ښه‌والي او څارنې په موخه بايد پورته ياد شوي ټکي او مطالب تر جدي کنټرول لاندې ونيسي.

**پنځمه پوښتنه:** يوه موضوع، چې غواړو هېوادوالو ته يې په اړه معلومات او وضاحت ورکړئ، د عرايضو د تسليموونکو ده، کوم کسان کولای شي چې د سترې محکمې عالي مقام په عنوان عرايض تاسو ته تسليم کړي؟

**ځواب:** که څه هم د مخکې پوښتنې په ځواب کې ذکر شوي کړنلاره کې دا واضحه شوې ده؛ خو په خلاصه ډول بايد ووايم، هغه اشخاص چې عريضه ســـترې محکمې ته ســـپاري، په حقوقي موضوعاتو کې که اصيل وي بايد خپله اصالتًا حاضر وي او که وکيل وي بايد وکيل يې حاضر وي؛ خو په جزائي عرايضو کې (چې د عفو يا تخفيف اړوند وي) بايد د بندي نږدې خپلوان، لکه: پلار، ورور، مېرمن يا خاوند وي او هغه هم وروسته له دې، چې د قرابت اړيکه يې تثبيت شي.

**شپږمه پوښتنه:** مولوي صاحب! د نورو وزارتونو او خپلواکو ادارو څخه سترې محکمې ته راجع کېدونکي مکتوبونه، استعلامونه او موضوعات هم د تحريراتو رياست ته راجع کېږي، تاسو د يادو موضوعاتو په اړه څه اجراآت ترسره کوئ؟

**ځواب:** هو، په عرايضو سربېره، مکتوبونه، دوسيې، وړانديزونه او استهداوې، لکه: د تجديد نظر غوښتنې، د صلاحيت تفويض، د محکمو تبديلول، د وثايقو د صحت او ســـقم په اړه موضوعات د کال‌تمام راپورونو په اساس، او هدايت غوښتونکي مکتوبونه، لکه: د ملک له ټولو محاکمو استهداآت، د رياست الوزراء له محترم مقام، د فرمانونو او احکامو د څارنې او تعقيب له عمومي رياست، وزارتونو، امارتي او غير امارتي شرکتونو، بانکونو او مرکزي رياستونو څخه دغه رياست ته رارسېږي.

ياد موضوعات د ســـترې محکمې محتـــرم مقام د هدايت له ترلاسه‌کولو وروسته اړوند مراجعو ته د بعدي اجراآتو په موخه استول کېږي.

**اوومه پوښتنه:** د هېوادوالو مشکلات او غوښتنې، چې د عرايضو په بڼه د تحريراتو رياست له طريقه له عالي مقام او اړوند رياستونو سره شريک کېږي، تاسو په دې برخه کې خلکو ته څه آســـانتياوې برابرې کړې دي؟

**ځواب:** د عارضينو لپاره د برابرو شويو آسانتياوو په اړه بايد وويل شي، چې په لومړي ګام کې عرايض د (لارښود) مطابق اخيستل کېږي، ياد لارښود د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو محترم رياست لخوا د يوې لوحې په ښه ترتيب، ډيزاين، چاپ او د عرايضو په مديريت کې نصب شوی دی.

همدارنګه، ياد لارښود د ســـترې محکمې په شاوخوا کې ټولو عريضه ليکونکو ته هم ورکړل شوی، تر څو د هغه مطابق عمل وکړي او عارضين له سرګردانۍ او ستونزو سره مخ نشي.

کله، چې د عارض عريضه اجرا او خلاصه شي، د بيا سپارلو په موخه له محتـــرم عارض سره د ټليفون له لارې اړيکه نيول کېږي او خبر ورکول کېږي، چې عريضه يې خلاصه ده او د تسليمۍ لپاره دې مراجعه وکړي.

همدارنګه، د عارضينو د عريضو د خونديتوب او د جعل او تزوير د مخنيوي په موخه د عارضينو عريضې د دې رياست د برېښناليک (ايميل) له لارې اړوند محاکمو ته هم استول کېږي.

په دې سربېره، د عارضينو عريضې په اړوند کتاب کې ثبت کېږي او په ډېټابېس کې هم ثبت او خوندي کېږي.

دغه راز، کوم عارضين، چې مشکل ولري په نوبت‌وار توګه رياست ته راغوښتل کېږي او له نږدې څخه يې مشکل اورېدل کېږي.

**اتمه پوښتنه:** که مهرباني وکړئ، دا معلومات راکړئ، چې کله عارض خپله عريضه اړوندې شعبې ته وسپاري، د عريضې د اجرا او بشپړېدو پروسه په څو کاري ورځو کې ترسره او عريضه بېرته عارض ته سپارل کېږي؟

**ځواب:** ستاسو د پوښتنې په ځواب کې بايد وويل شي، چې کله عارض خپله عريضه د عرايضو دفتر ته وسپاري، هلته د وارده شمېرې او نېټې په درج کولو سره ثبتېږي، دويمه ورځ يې تحليل او ارزونه ترسره کېږي او په درېيمه ورځ د ســـترې محکمې له محتـــرم عالي مقام څخه پرې حکم او لاسليک اخيستل کېږي، په عادي حالت کې، عريضه د درېيو کاري ورځو په موده کې د هغې ورځې په شمول، چې عريضه يې د ســـترې محکمې مقام ته سپارلې، د حکم له صادرېدو او بشپړېدو وروسته بېرته د عارض په واک کې ورکول کېږي.

## د پکتيکا ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۲۸۴) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره (۱۹۸) وثيقې هم اجراکړې دي

د پکتيکا ولايت مرافعه، ښاري ابتدائيه او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (له ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۲۸۴) دوسيو ته رسېدنه کړې او (۱۹۸) وثيقې يې هم اجراکړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د پکتيکا ولايت محاکمو ته په يوه مياشت کې (۲۴۸) حقوقي دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۸۰) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۶) دوسيې فيصله شوې، (۲۵) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د پکتيکا ولايت محاکمو ته په يوه مياشت کې (۱۸۱) جزائي دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۵۵) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۶) دوسيې فيصله شوې، (۲) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د پکتيکا ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۱۹۸) بلابلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۹۹) دوسیه، به تعداد (۱۳۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت سمنگان طی دو هفته (از ۱۵/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۷/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۴۴) دوسیه، به تعداد (۱۳۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۳۰) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۲۴) دوسیه، به تعداد (۲۱۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت پروان طی دو هفته (از ۱۵/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۷/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۳۴) دوسیه، به تعداد (۲۱۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به تعداد (۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به تعداد (۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۲) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۲۱۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۷۳) دوسیه، به تعداد (۱۶۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری، نظامی زون غور و ابتدائیه ولسوالی‌ها طی دو هفته (از ۱۵/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۷۳) دوسیه، به تعداد (۱۶۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۵) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۷) دوسیه فیصله شده، (۳۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۲) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۷) دوسیه فیصله شده، (۵۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۶۲) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د بلخ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۶۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۳۱۵) وثیقې هم اجراکړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۱۳۳۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۳۱۵) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۸۹۹) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۷۶۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۰۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۶۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۴۳۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۴۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۲۶) دوسیې فیصله شوې، (۵۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۳۱۵) بلابلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۸۴) دوسیه، به تعداد (۱۵۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت کندز طی دو هفته (از ۱۵/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۶۸۴) دوسیه، به تعداد (۱۵۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۷۳) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۹۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۵) دوسیه فیصله شده، (۲۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۷) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۱۵۹) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۰۷۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۵۹) وثیقې هم اجراکړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه، وثایقو، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۱۰۷۴) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۵۵۹) وثیقې یې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۴۶) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۹۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۱) دوسیې فیصله شوې، (۳۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۱۰) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۱۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۵۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۱۴۹) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۸۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۹) دوسیې فیصله شوې، (۲۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۵۹) بلابلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

لااله الا الله محمد رسول الله

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې د درېیم او څلورم زونونو لپاره د څه باندې (۶,۵) میلیون افغانۍ په لګښت جلا جلا ودانۍ جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې عالي مقام په حکم او د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست په هڅو د کابل ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې درېیم او څلورم زونونو لپاره د کابل ښار ۱۵مې حوزې په «قصبه» سیمه کې د څه باندې (۶,۵) میلیون افغانۍ په لګښت جلا جلا ودانۍ جوړې؛ د قضائي او اداري چارو د ترسره کولو په موخه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یادو زونونو د پرانیستې پر مهال د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم الحاج مولوي کریم الله (زاهد) صاحب وویل، د درېیم او څلورم زونونو لپاره د نویو ودانیو د جوړېدو او دلته د یادو زونونو د انتقال اساسي موخه مراجعینو ته د قضائي خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د لازمو اسانتیاوو رامنځته کول، قضائي خدماتو ته د خلکو آسانه لاس‌رسی او د مراجعینو لپاره د مناسب او معیاري چاپیریال رامنځته کول دي.

نوموړي زیاته کړه، په دغه ودانیو کې (۳۴) رسمي کاري خونې، د محکمې د منسوبینو او مراجعینو لپاره یو باب لوی مسجد، د ښځینه او نارینه مراجعینو لپاره د اوداسه جلا جلا ځایونه او لارې، د ښځینه او نارینه مراجعینو لپاره جلا جلا انتظارخونې، ۲۴ ساعته برېښنا او نور ټول اړین امکانات برابر شوي دي.



# د افغانستان اسلامي امارت
## ستره محکمه
### د کابل ولایت د مرافعه محکمې ریاست
#### د کابل ولایت د ښاري ابتدائیه محاکمو د درېیم او څلورم زونونو ریاستونه

# امارت اسلامی افغانستان
## ستره محکمه
### ریاست محکمه مرافعه ولایت کابل
#### ریاست‌های زون‌های سوم و چهارم محاکم ابتدائیه شهری ولایت کابل

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

یادې ودانۍ محکمې ته د کابل ښاریانو د اړوندو سیمو د اوسېدونکو د لاسرسي د اسانتیا په پام کې نیولو سره په جلا ساحه کې جوړې او هڅه شوې، چې مراجعین په کې د خپلو قضائي او اداري چارو د تعقیب پر مهال له مناسب، منظم او اړینو امکاناتو څخه برخمن شي او د محکمې خدماتو ته یې لاسرسی لا آسانه شي.

د ګل محمد (محمدي) په نوم د دغه زونونو یوه مراجعه کوونکي د سترې محکمې له عالي مقام څخه مننه وکړه، چې د دوی د سهولت په موخه یې یاد زونونه د دوی د استوګنې نږدې سیمې ته انتقال او مراجعینو ته یې په کې هر ډول لازم امکانات، لکه: د مراجعې ځانګړې لار، د انتظار مناسب ځای، د اوداسه ځایونه، مسجد او داسې نور برابر کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ د عامه حقوقو موضوعات، د کابل ښار ۱۰مې او ۱۵مې ناحیې د اوسېدونکو دوسیې د کابل ښاري ابتدائیه محکمې د درېیم زون او د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ د عامه حقوقو موضوعات، د کابل ښار د ۱۷مې، ۱۸مې او ۱۹مې ناحیې د اوسېدونکو دوسیې د کابل ښاري ابتدائیه محکمې د څلورم زون اړوند دي.

## د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لپاره مرستیال معرفي شو

د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست نوی مرستیال محترم مفتي احمد نصرت د یکشنبې په ورځ (۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټه، د یوې غونډې په ترځ کې د یاد ریاست کارکوونکو ته معرفي او رسمًا یې خپله دنده پیل کړه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) صاحب په خپله وینا کې د دارالانشاء عمومي ریاست نوي مرستیال ته له لوی څښتن تعالی څخه د دین او نظام لپاره د صحیح خدمت کولو د توفیق غوښتنه وکړه.

نوموړي زیاته کړه، زموږ نظام په اطاعت ولاړ دی او پر موږ لازمه ده، چې د مشرانو د هر امر اطاعت وکړو، مسئولیتونو کې به ځان مسئول بولو او په اخلاص، صداقت او همغږی به کارونه ترسره کوو.

د سترې محکمې قضائي مرستیال د دارالانشاء عمومي ریاست د نوي ټاکل شوي مرستیال په اړه وویل، موږ په قضائي معاونیت کې د نوموړي له کارونو او خدمت څخه خوشحاله او راضي یو.

د معرفت یاده غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې نوی مرستیال مفتي احمد نصرت له دې وړاندې د سترې محکمې د قضائي معاونیت د مستشار په توګه خدمت کاوه.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۷**

**نېټه: ۱۴۴۸/۲/۱۵ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د اړونده کشفي ادارو او د ټولو ولایتونو امنیه قومندانیو ته د قطعي/نهایي فیصلو ابلاغیه د استولو په هکله.

د سترې محکمې د محترم عالي مقام په مشورتي مجلس مورخ ۱۴۴۸/۲/۱۵هـ.ق کې د درېیمې پرېکړې په توسط داسې هدایت وشو:

«د سترې محکمې او د کورنیو چارو وزارت د جرمونو د کشف او پر وړاندې یې د مبارزې لوی ریاست د مجلس مورخ ۱۴۴۶/۷/۱هـ.ق د دوهمې پرېکړې مطابق مربوطه محاکم دې د اړونده کشفي ادارو او د ټولو ولایتونو امنیه قومندانیو ته د قطعي/نهایي فیصلو ابلاغیه د ایمیل او یا مکتوب له لارې استوي.»

بناءً یاد هدایت د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۸**

**نېټه: ۱۴۴۸/۳/۴ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د وکالت بالفروش او حصر وراثت په وثایقو کې د حوزوي صلاحیت د رعایتولو په اړه.

د وکالت بالفروش او حصر وراثت په وثایقو کې د حووزوي صلاحیت د رعایتولو په اړه د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۸/۳/۲ هـ.ق په توسط داسې هدایت وکړ: "د وکالت بالفروش او حصر وراثت په وثایقو کې حوزوي صلاحیت د رعایتولو په اړه د سترې محکمې د تفتیش عمومي ریاست د مفتشینو نظر تایید دی، یاد نظر په متحدالمآل شکل ټولو محاکمو ته ولیږئ څو محاکم د یاد نظر مطابق کړنې ترسره کړي"

بناءً یاد هدایت او د سترې محکمې د قضایي پلټنې عمومي ریاست نظر په (۴) ورقو کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

احکام و فرامین قضائی
(٤)



شماره: (۲۹)
تاریخ: ١٤٤٣/٨/١٢ هـ..ق

## فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی
## در مورد صلاحیت زندانی کردن و مدت توقیف متهمین برای کشف الحال

**فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد صلاحیت زندانی کردن و مدت توقیف متهمین برای کشف الحال**

اگر یک شخص متهم باشد که در مورد وی ضرورت کشف الحال باشد تنها مسؤلین و استخباراتی می توانند که وی را به غرض کشف الحال توقیف نمایند که مدت توقیف وی را به به ده روز نرسانند.

اگر برای کشف الحال به زمان بیشتر نیاز بود از محکمه تمدید اخذ نماید. همچنان هیچ کس نمی تواند که پس از بند، بدون حکم محکمه، بندی را آزاد نماید. در مدت بند از هر قسم تعذیب دادن اجتناب و تعزیر را تنها محکمه دارا می باشد، اگر کسی غیر از محکمه به کسی تعذیب و تعزیر می دهد، این عدالت نه بلکه ظلم است، جلوگیری از ظلم واجب و رها نمودن ظلم حرام است.

**والسلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوی هبة الله اخندزاده**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳